# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

## AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد       بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم       از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com       www.afgazad.com

| مسایل ایدولوژیک | Ideological |
|---|---|

الحاج داکترامین الدین « سعیدی – سعید افغانی »
۰۹ جولای ۲۰۱۵

# د لیلة القدر دشبی ځني خاص علائم

مفسرین او محدثین د لیلة القدر دشبی دځني علائمو په باره کی په تفصیل سره لیکلی دی چی دهغه جملی څخه دحضرت جابر بن عبدالله رضی الله تعالی عنه  په هغه حدیث کی چی روایت شوی دی دقدر دشبی ځني نښاني داسی بیان کړی دي.

« د قدر شپه معتدله وي نه به یخه وي او نه به ګرمه ، دغه شپه به رڼا او سپینه وي داسې چې ته وایې د پنځلسم سپوږمی ځلیږي ، په دغه شپه به شیطان د باندې نشي وتلای نو په اسمان کې به د ستورو رڼاوې کوم چې شیطان وربانديې ویشتل کیږي نه معلومږي او بله نښه یې داده چې کله د قدر د شپې په سبا لمر وخیږي له ځانه سره به وړانګې نه لري ) .